د افغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــــاکنو خپلواک کمیسیون

جمهوری اسلامی افغـــانستان
کمیسیون مستقل انتخــــابات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Election Commission**

---

## د سیاسی ګوندونو، خپلواکو کاندیدانو، څارونکی ډلو اوخبری رسنیو لپاره د اعتبارنامه صادرولو کړنلاره

دغه کړنلاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون له خوا د ټاکنو قانون په (56) مادې کې ورکړل شویو واکونو پر بنسټ د اړوندو چارو د سمون په موخه، سیاسي ګوندونو استازیو، خپلواکو کاندیدانو، پر ټاکنو باندې څارونکیو بنسټونو او رسنیو لپاره باورلیک تصویب شو.

### نوموني (اصطلاحات)

لومړی ماده:

په دې کړنلاره کې وروستی نوموني لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱-کمیسیون: د ټاکنو خپلواک کمیسیون چې دا ساسي قانون د (156) مادې پر بنسټ جوړ شوی دی.

۲-ټاکنې: د رایې ورکوونکو د نوم ثبتونې بهیر، ټاکنیزې سیالې ، رایې ورکووني او رای شمیرنې ته ویل کیږی.

۳-سیاسي ګوند: سیاسي ګوند او یا د سیاسي ګوندونو یوالی (ایتلاف).

۴-کاندید: خپلواک کاندیدان یا د خپلواکو کاندیدانو یوالی.

۵-څارونکی: هغه رېښتنی شخص دی چې د یوه سیاسي ګوند یا کاندید په استازیوب، په ټاکنو کې د څارنې په موخه ګډون کوي.

۶-کتونکی: هغه رېښتنی شخص دی چې پر ټاکنو باندې د کتونکو بنسټونو (ملي یا نړیوالې) له خوا د ټاکنو د بهیر دکتنې په موخه معرفي کیږي.

۷-رپوټ ورکونکی: هغه حقیقي شخص دی چې د ډلیزو رسنیو (ملي یا نړیوال) له خوا د ټاکنو بهیر د رپوټ جوړولو په موخه معرفي کیږي.

۸-پېژندکارت: د پېژندنې سند دی چې کمیسیون یې هغو رېښتینو اشخاصو ته چې د سیاسي ګوندونو، کاندیدانو، پر ټاکنو باندې کتونکیو بنسټونو او ډله ییزو رسنیو له خوا معرفي شوي وي ویشي.

### د باورلیک صادرول:

دویمه ماده:

۱- د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د بهیر له پیل څخه د مخه سیاسي ګوندونو، کاندیدانو، پرټاکنو باندې کتونکیو بنسټونو او خبري رسنیو ته وخت ورکوي، تر څو د باورلیک د ترلاسه کولو په موخه خپل غوښتن لیکونه کمیسیون ته وسپاري.

۲- سیاسي ګوندونه ،کاندیدان ،پر ټآکنو باندې څارونکي بنسټونه او رسنې خپل غوښتنلیکونه چې لاندې موضوعاتوته ژمنه اومعلومات په کې شامل دې دباورلیک دلاسه راوړلو په موخه دې کمیسیون ته وړاندې کړي.

الف)د حزب مشرنوم، پته، د تیلفون شمېره( دشتون په صورت کې د برېښنالیک پته)،

ب)د اړیکن شخص نوم، پته د تیلفون شمېره (دشتون په صورت کې د برېښنالیک پته)،

ج)د چلند اصول (اصول رفتار) اړوند سند لاسلیک کول،

د)اړوند و قانوني مراجعو ته د ثبت اړوندو اسنادو وړاندې کول،

ه)په ایتلاف کې د ګډون کوونکو ګوندونو اړوندو اسنادو ثبتول، او هغه سند چې د کمیسیون له خوا ایتلاف زبات ته ورسوي، د سیاسي ګوندونو د (ایتلاف پوسیله)،

و)د کاندیدانو د ثبت اړونده اسنادو وړاندې کول چې په ایتلاف کې وي همداراز هغه سند چې د کمیسیون له خوا د ایتلاف دثبت زباتونکی (ثابت کننده) وي، د خپلواکو کاندیدانو د ایتلاف پوسیله،
ح)د کمیسیون پوسیله د کاندید د نوم ثبتوني په اړه د سند وړاندې کول (درایي ورکوونکو د نوم ثبتوني له بهیر نه پرته)

## دپېژند کارت ویشل

دریمه ماده:

سیاسي ګوندونه، کاندیدان، دټاکنو کتونکي ټولنې او خبري رسنۍ چې ددې کړنلارې د (۲) مادې پر بنسټ باورلیک تر لاسه کړی دی، لاندې معلومات د هغو کسانو په اړه چې پر ټاکنو باندې د څارنې په بهیر کې، استازیتوب کوي، وړاندې کړي:

الف)د شخص نوم،دپلارنوم، پته او د تذکرې یا د پاسپورت شمېره.
ب)د اظهار نامې لاسلیک کول چې د هغې پر بنسټ سیاسي ګوند، کاندید، پر ټاکنو باندې کتونکې ټولنې ومنې چې د هغوی استازیو ۱۸ کلن عمر بشپړ کړی، دهیڅ یو امنیتي ارګان غړیتوب نه لري او په ټاکنو کې د کاندید په توګه یې نوم ثبت شوی نه وي
ج)د اظهار نامې لاسلیک کول چې د هغې پر بنسټ سیاسي ګوند، کاندید، پر ټاکنو باندې کتونکې ټولنې او خبرې رسنۍ تایید کړي چې دهغوی استازې د چلنداصول یې لوستی دی او ورته پابند به وي.

## پېژند کارتونه

څلورمه ماده:

۱)کمیسیون د باورلیک له صادرولو څخه وروسته د (۱۴) ورځو په اوږدو کې کتونکو، څارونکو او رپوټ ورکونکو ته پېژندکارتونه چمتو کړي او د اړوند بنسټونو په واک یې به یې ورکړي.
۲)ویشل شوی پېژند کارت کولی شي په یوې یا د یوې نه زیاتو ټاکنېزو بهیرونو کې د باور وړ وي.

## دباورلیک باطلول

پنځمه ماده :

کمیسیون په لاندینیوموارد وکي دسیاسی ګوندونو ، کاندیدانو پرټاکنوباندی د کتونکوبنسټونواوخبري رسنیودباورلیک باطلول:

۱ـ دچلنداصول نه رعایتول یادټاکنودقانون اودکمیسیون له خوا تصویب شویو کړنلارواوکړندودونوځخه سرغړونوپه اړه دپوره اوبشپړوشواهدوشتون.

۲: دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون دپرېکړې شتون.

۳: دسیاسی ګوند کاندید ، پرټاکنوباندې دکتونکوبنسټونواورسنیواړوند باورلیک باطل اعلانولوغوښتنه.

## دپېژندکارتونوباطلول:

شپږمه ماده :

۱: کمیسیون په لاندې حالاتو کې دصادرشویوپېژندکارتونوباطلول اعلانوي:

الف:ـ دسیاسی ګوندونو، کاندیدانو، پرټاکنوباندې کتونکوبنسټونواورسنیو له خوا دهغوی دمعرفي شوي استازي ( نماینده )دپېژند کارت دباطلولول.

ب: په دې اړه چې څارونکي ، کتونکي یا رپوټ ورکوونکي په اړوندواصولوعمل نه دی کړی اویادټا کنیزوسرغړونو مرتکب شوی دی دشواهد ودشتون په صورت کې ،

ج)دسیاسی گوند ،کاندید ، پر تاکنو باندی کتونکي تولنی اورسني چی یوتن له هغوي نه استازیتوب وکړی دباورلیک دباطلیدو اعلان کول.

(۲) کمیسیون دسیاسی گوندونو، پرتاکنوباندي کتونکیوبنستونواورسینواویا دهغوی استازیوارووند باورلیک یادپیژندکارتونودباطل اعلانولوپه صورت کي به دبطلان لاسوندونه ( دلایل ) دهغوی دخبرتیالپاره ورسوی.

۳: دنوم ثبتوني دمرکز ونومسؤول ،درایی ورکووني اورایي شمېرني یا هريوبل تاکنیزکارکونکی چی دکمیسیون له خواواک ورکړشوی وي ، په لاندینوموارډوکي کولی شی داستازیودپیژندکارتونوپه ضبطولوکي عملي گام واخلی اودهمدي موضوع په اړه دیرژرکمیسیون ته خبرورکړي.

الف: دکمیسیون دهدایت په صورت کي ،

ب : ددي په اړه چي استاري اړوند کړندورپرخلاف عمل کړی دی ،

ج : دتاکنیزوسرغړونودکولوپه صورت کي ،

## دڅارونکیو،کتونکیواوریوټ ورکونکیو لاسرسی

اوومه ماده :

۱ : هغه ډله څارونکیو، کتونکیواورپوټ ورکوونکیوچي دکمیسیون له خوا یي باورلیک لاسته راوړی وي اوخپل پیژند کارتونه یي په هغه بڼه چي دپیژندلووړوي دخپل ځان سره ولري اجازه ورکول کیږي چي دتاکنوپه بهیرکي دڅارني ، کتني اودرپوټ جوړولوپه موخه گډون وکړي.

۲ : په تاکنیزومختلفوپړاونوکي دڅارونکیو، کتونکیو اورپوټ ورکوونکیوحضورداړوندوکړ نلاروکړندورونواودکړنو اصولوله مخي تنظیم شي.

۳: دنوم ثبتوني سیمه ییز مسؤولین کولی شي چي درایي ورکوني ځایونه اورایوشمېرني مرکزونه دامنیتی ستونزو( معاذیرو) که کبله اویادڅارونکیو اورپوټ ورکوونکیوله حده زیاد کنه گوڼي دمخینوی په موخه مهالي بندیزونه ( محدود یتونه) دهغوی دشتون په اړه دنوم ثبتوني په ځایونوکي ، د رایواچوني اورایوشمېرني په مرکزونوکي رامنځه کړي.

## دکمیسیون مسؤولیت نه لرل:-

اتمه ماده :

کمیسیون داستازویو، کتونکیواورپوټ ورکوونکیولپاره دامنیت تامین ، ترانسپورت برابرول ، استوکنځي اویادي ته ورته استانتیاووپه اړه مسؤولیت نه لري.

انفاذ

دغه کړنلاره دتصو یب له نېټي وروسته نافذه او خپرېږي.